بسم الله الرحمن الرحیم

## امت له خاينو حکامو او نظامونو سره د دې پر سر سيالي کوي، چې دوی د مبارکې خاورې ازادي غواړي او هغوی له يهودو سره اړيکې عادي کوي!

**(ژباړه)**

## اقصی جومات مسلمانو لښکرو ته چيغې وهي!

**الأقصى يستصرخ الجيوش**

**armies calls Aqsa**

**AqsaCallsArmies**

**OrdularAksaya**

**خبر:**

د يهودي رژيم (لسراير) هوايي شرکت وايي: «د دغه رژيم او مراکش هېواد د اړيکو له عادي کېدو شپږ مياشتې وروسته، په راتلونکې جون مياشت کې د تل ابيب او مراکش تر منځ مستقيم خط ايجادېږي.» د دغه شرکت وياند وايي: «له تل ابيت نه تر مراکش پورې لومړی سفر د جون مياشتې په ۱۹مه، نېټه پيلېږي، چې په هر اونۍ کې به اوه سفرونه کېږي.»

**تبصره:**

د غربي هېواد او يهودو رژيم تر منځ هغه مهال د اړيکو پراختيا علني کېږي، چې د يهودو رژيم عامه قتلونه، په وحشيانه توګه د غزې رنګول، پر اقصی مسجد متکرره بريدونه او همدارنګه د فلسطينيانو پر وړاندې يې هره ورځ بريدونه دوام لري او دغه حقيقت له اسلامي امت څخه د لاسپوڅو نظامونو بيرونوالی ښيي، چې اسلامي امت په يوه کلي او مزدور نظامونه په بل کلي کې دي.

امت د مقدسې خاورې او رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسرای ازادېدل غواړي. د امت بچيانو د خپل رسالت له مخې د دغې خاورې پولو ته ځان راورساوه. په داسې حال کې چې د غرب مزدور نظامونه د يهودو له غاصب رژيم سره د اړيکو عادي کولو او په اسلامي خاورو کې يې د ادغام لپاره، په داسې وخت

کې کار کوي، چې د فلسطين د خلکو د اتلوليو پر وړاندې فلج شوي دي. هغوی د فلسطين په ګوټ، ګوټ کې فعاليت پيل کړ، پرته د دې په پام کې نيولو سره، چې د ۴۸ او ۶۷ کلونو د اشغال څخه په ګټې اخيستنې سره، چې د غرب او د هغوی د مزدورو موخه ترې د يهودي دولت ثبات و.

د فلسطين د خلکو وروستۍ اتلولۍ او د تحرکات يووالی ښيي، چې امت د اقصی جومات او ټول فلسطين ازادي غواړي. زموږ په خاورو کې د مزدورو نظامونو موخه له يهودي رژيم سره د اړيکو عادي کول دي. دوی هغه موخه چې په يوه وخت کې امکان نه لري، بلکې د امت او خاينو حکامو تر منځ سختې جنجالي اړيکې په ډاګه کوي. که امت دغو موخو ته ونه رسيږي، نو امت به د دې لامل شي، چې مزدور حاکمان د غرب غلامۍ ته ورکش کړي.

اسلامي امت بايد له دغو حاکمانو صلاحيت واخلي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه راشده خلافت تاسيس کړي، څو د الله تعالی شريعت حاکم شي او د غرب له غلامۍ څخه ځان خلاص کړي او په دې سره به له لاسه وتلې سياسي اراده بېرته تر لاسه کړي. لښکرونه/ پوځ بايد د صلاح الدين په شان د فلسطين مبارکې خاورې ازادولو او د يهودي رژيم د له منځه وړولو لپاره حرکت وکړي. د پوځ جنرالانو او لښکرونو افسرانو ته لازمه ده، چې دغو خاينو حکامو ته شا کړي، چې د امت دين او مقدساتو ته يې په سپکه سترګه وکتل او د امت له دښمنانو سره اړيکې عادي کوي. دغه راز د هغوی خبرو ته غوږ ونه نيسي، څو د دې وخت له مناصرينو وګڼل شي.

**ليکوال: ډوکټور مصعب ابو عرقوب**

**د فلسطين مبارکې خاورې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: حبيب الله**